# د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

## د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست


**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۰/ محرم الحرام /۱۴۴۵ هـ، ق مطابق ۵/ اسد /۱۴۰۳هـ، ش**

# په قرآن کريم کې د کامل مؤمن د صفاتو بيان

الحمدُ للهِ القائلِ في محكمِ التنزيلِ: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ أَيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتوَكَّلُونَ ﴾ [الأنفال:۲]، وَأَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وليُّ الصالحينَ وَأشهدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وصفيُّهُ من خلقِهِ ، فاللهمَّ صلِّ وسلمْ وزدْ وباركْ على النبي المختارِ وعلى آلهِ وأصحابِهِ الأطهارِ الأخيارِ، وسلمْ تسليمًا كثيراً إلى يومِ الدينِ؛ أما بعدُ:

قال الله سبحانه وتعالى :{قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاتِهِمْ خَاشِعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * إِلا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ * فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ * أُوْلَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ * الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ}[المؤمنون: (۱۱)]

**درنو اوريدونکو!**

په مؤمنانو کې ناکامه مؤمن هغه دی چې د خپلو نفسي خواهشاتو تابع وي او دځان لپاره په آخرت کې د لوړو درجو اميد ساتي او هوښيار او کامياب مؤمن هغه دی چې خپل نفس د الله جل جلاله د احکاماتو تابع کړي او د آخرت لپاره عمل کوي.

په آخرت کې يواځې کلمه ويل کفايت نه کوي او نه يواځې په دې مؤمن خلاصی مومي چې په الله تعالی ايمان يې راوړی وي او نور اعمال نه کوي او په گناهونو يې سر وي؛ بلکې کامل مؤمن هغه دی چې د ايمان ترڅنگ نيک او صالحه اعمال کوي او د گناهونو او جرمونو څخه ځان وساتي. الله تعالی په قرآن کريم ځای پرځای د کامل مؤمن ډير زيات صفات بيان کړي دي خو مونږ به ورڅخه د يو څه صفات په مختصر ډول بيان کړو:

**۱**-کامل مؤمن هغه دی چې دلمانځه پوره اهتمام کوي او په لمانځه کې عاجزي او خشوع کوي.په قرآن کريم کې په اکثرو ځايونو کې د ايمان د ذکر څخه وروسته لمونځ ذکر شوی دی چې دا د لمانځه پر اهميت دلالت کوي او د حديث شريف مفهوم دی چې لمونځ د مؤمن معراج دی او څوک چې په لمانځه ودريږي گويا له الله تعالی سره په ملاقات مشرف شو. د المؤمنو په سورت کې په (۹) نمبر آيت کې راځي:(وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ). المؤمنون: (۹) ترجمه: او هغه چې هغوی په خپلو لمونځونو مداومت (او حفاظت) کوي

د البقرې په سورت کې الله تعالی فرمايي:( وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ ) البقرة: (۳) او(متقيان هغه کسان دي چې) قائموي لمانځه لره يعنې چې د د لمانځه حفاظت کوي او د لمانځه څخه غفلت نه کوي. د لمانځه قائمول د ارکانو ، فرائضو ، سنتو او مستحباتو د رعايتولو سره لمونځ په خپل وخت سره کولو ته ويل کيږي.د کامل مؤمن کامل لمونځ يواځې په فرض لمونځونو

اکتفاء کول نه دي؛ بلکې دمؤمن ایمان د سنتو او نوافلو په کولو کامل کیږي او په نفلي لمونځونو کې غوره او بهتره لمونځ د شپې د تهجدو لمونځ دی. که څوک غواړي چې کامل مؤمن جوړشي نو دفرضو او سنتو لمونځونو ترڅنګ دی د شپې پر تهجدو اهتمام وي.په سورت الفرقان کې الله تعالی د کاملو مؤمنانو داسې صفت بیان کړی دی: (وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا). الفرقان: ٦٤

ترجمه:- او هغه کسان دي چې خپل رب ته شپه تېروي، په داسې حال کې چې سجده کوونکي او قیام کوونکي وي

همدا راز د کامل مؤمن دا صفت دی چې کله کامل مؤمن لمونځ کوي دومره یې خشوع او خضوع او عاجزي په لمانځه کې برابره وي لکه چې له الله تعالی سره خبری کوې، خپل قرائت ته متوجه وي، د لمانځه ارکانو ته متوجه وي او په ډېره عاجزۍ او انکسار سره خپل لمونځ کوي. داد کامل مؤمن لمونځ دی او څوک چې لمونځ په عاجزۍ او خشوع سره نه کوي نو پوهه شه چې دا کامل مؤمن نه دی او لمونځ یې هم کامل لمونځ نه دی. الله جل جلاله د کاملو مؤمنانو صفت داسې کوي: ( قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ. الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاتِهِمْ خَاشِعُونَ) المؤمنون:( ١ ٢)

ترجمه:- یقینًا مومنان کامیاب شول هغه چې هغوی په خپلو لمونځونو کې خشوع کوونکي دي

**٢-** دکامل مؤمن بل صفت دادی چې د ګناه، باطلو، لغوو، بیهوده او بې فائدې اقوالو، افعالو او خویونو څخه مخ اړوونکي وي. د کامل مؤمن صفت دادی چې هغه به د خپل وخت او د خپل حیثیت ساتنه کوي او دداسې وینا، عمل او خصلت څخه به ځان ساتي چې نه په کې دنیوي ګټه وي او نه اخروي او په دې دریز کې به جدي وي او خپل وخت به په عبثیاتو او بیهوده کارونو نه ضائع کوي. الله جل جلاله د المؤمنون په سورت کې د کاملو مؤمنانو صفت بیانوي او فرمایي:( وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ)المؤمنون: (٣)

ترجمه:- او هغه کسان چې دوی له لغو (خبرو او کارونو) نه مخ ګرځوونکي دي

حافظ ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې لیکي: (أي عن الباطل، وهو يشمل الشرك كما قاله بعضهم، والمعاصي كما قاله آخرون، وما لا فائدة فيه من الأقوال والأفعال. تفسير ابن كثير / دار الفكر (٣ /٢٩٢) د (یعنې دباطلو څخه مخ اړوونکی وي چې باطل شرک ته هم شاملیږي لکه چې ځینو مفسرینو خبره دا خبره کړی ده او باطل ګناهونو ته هم شاملیږي لکه چې داخبره ځینو نورو مفسرینو کړی ده او باطل هغه څه ته هم شاملیږي چې کومه فائده په کې نه وي که هغه اقوال وي او که افعال وي.

په یو بل مبارک آیت کې د کاملو مؤمنانو صفت داسې شوی دی:(وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِراماً).الفرقان:٧٢.

ترجمه: او کله چې تیریږي دوی په باطل، بیهوده او عبث (کارونو او مجلسونو) باندې تیریږي؛ تیریږي په داسې حال کې چې د ځان عزت ساتونکي وي یعنې مخ اړوونکي له لغوه څخه.یعنې هیڅ ډول مشارکت په کې نه کوي .

همدا صفت په یو بل مبارک آیت کې هم ذکر شوی دی: (وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ).القصص:٥٥.

ترجمه:- او کله چې دوی واوري لغوه، بیهوده او باطل کار او خبره او یاحرامه وینا واوري، مخ اړوي له هغې څخه.

**٣-** د کامل مؤمن په قرآن کریم کې بل صفت دا ذکر شوی دی چې کامل مؤمن د خپل شرمګاه حفاظت کوي. یعنې د زنا او نورو فحشاوو(لواطت) څخه خپله شرمګاه ساتي او همدارنګه د زنا له دواعیو څخه هم ځان ساتي لکه په سترګو کتل ، په لاس لمس کول او په خوله د زنا خبرې کول. د المؤمنو په سورت کې الله تعالی دکاملو مؤمنانو صفت داسې بیان کړی دی: (وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ) المؤمنون: (٥)ترجمه: او هغه چې هغوی د خپلو فرجونو (د شهوت ځایونو) ساتونکي دي

همدارنګه الله تعالی د الفرقان په سورت کې د ریښتینو مؤمنانو په صفت کې فرمايي:(وَلا يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا) الفرقان: (٦٨) ترجمه: او کامل د الله بندګان هغه دي چې زنا نه کوي او چاچې داسې کار وکړ مخامخ به شي د عذاب سره .

او خدای مکړه که چیرې زنا یا بله فشحاء(لواطت) ورڅخه سر ووهي؛ نو فوراً الله تعالی ته رجوع کوي او توبه وباسي او د الله تعالی څخه دځان لپاره بښنه غواړي او د بیا لپاره ددغه ګناه څخه ځان ژغوري.الله تعالی د متقیانو چې کامل مؤمنان دي دهغوی په صفت کې فرمايلي دي:(وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ)آل عمران: (١٣٥)

ترجمه:- او هغه کسان چې کله څه فاحش کار وکړي، یا پر خپلو ځانونو (بل) ظلم وکړي (نو) الله یاد کړي، (او) ورپسې د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي، او بل څوك دی چې ګناهونه وبخښي غیر له الله نه؟ او څه چې دوی کړي وي په هغو اصرار (کلکوالی) و نه کړي، په دې حال کې چې دوی پوهېږي

**۴- د کامل مؤمن بل صفت دادی چې د امانت او وعدو به حفاظت کوي او وعده خلافي به نه کوي او په امانت کې به خیانت نه کوي.**

د الله تعالی سره وعده او د انسانانو سره وعده دواړه امانتونه دي او کامل مؤمن باید د هر ډول امانت حفاظت او ساتنه وکړي ځکه په امانت کې خیانت کول او یا په وعده کې برخلافي کول د منافق شخص صفت دی. الله تعالی د المؤمنون په سورت کې د کاملو مؤمنانو صفت داسې بیان کړی دی:( وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ) المؤمنون: (٨)

ترجمه:- او کامل مؤمنان هغه کسان دي چې دوی د خپلو امانتونو او وعدو رعایت (حفاظت ) کوي.

الله تعالی خپل اهل ( مالک او مستحق) ته د امانت په ورکولو امر کړی دی او فرمايي:(إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا). النساء: ٥٨ .ترجمه: بیشکه الله تعالی تاسو ته امر کوي ددې خبرې چې وسپارئ امانتونه خپل اهل ته.

په دې مبارک آیت کې د امانت او د امانت د اهل په باره کې ډیر پراخه او وسیع مفهوم پروت دی.

**۵- د کامل مؤمن بل صفت په قرآن کریم کې دا ذکر شوی دی چې کامل مؤمن د خپل رب او دهغه له عذاب څخه ډیر** زیات ویریږي؛ ځکه چې په آخرت کې به له هر چا سره حساب کیږي او ددې څخه ویریږي چې د کومې خطا او ګناه په بنیاد جهنم ته لاړ نشم. همدارنګه کامل مؤمن نیک عملونه کوي خو بیا هم ددې ویره ورسره وي چې الله مکړه نیک عملونه یې د کوم خلل په وجه دالله په دربار کې قبول نشي یعنې په خپلو نیکو اعمالو غرور نه کوي او ځان د جنت مستحق نه ګڼي. الله تعالی دداسې خلکو صفت بیانوي او فرمايي:(إِنَّ الَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ . وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ) المؤمنون:(٥٧ ٥٨)

ترجمه:- بېشکه هغه کسان چې دوی د خپل رب (د عذاب) له ډاره وېرېدونکي دي او هغه کسان چې دوی د خپل رب په ایتونو ایمان راوړي

په دې پسې مبارک آیت کې فرمايي: (وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ. أُوْلَئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ) المؤمنون: (٦٠ ٦١)

ترجمه:- او هغه کسان چې ورکوي، هغه څه چې ورکوي، او زړونه د دوی وېرېدونکي وي (ځکه چې) یقينًا دوی خپل رب ته واپس ورتلونکي دي دغه کسان په نېکیو کې تلوار کوي او دوی دغو (نېکیو) ته ړومبی کېدونکي دي

ددې آیت دمقصد په باره کې عائشه رضي الله عنها وايي: عن عَائِشَةَ، زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هَذِهِ الآيَةِ: {وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ} [المؤمنون: ٦٠] قَالَتْ عَائِشَةُ: أَهُمُ الَّذِينَ

يَشْرَبُونَ الخَمْرَ وَيَسْرِقُونَ؟ قَالَ: «لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيقِ، وَلَكِنَّهُمُ الَّذِينَ يَصُومُونَ وَيُصَلُّونَ وَيَتَصَدَّقُونَ، وَهُمْ يَخَافُونَ أَنْ لَا تُقْبَلَ مِنْهُمْ {أُولَئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ} [المؤمنون: ٦١] ». سنن الترمذي ت شاكر (٥ /٣٢٧)

ترجمه:- بيشكه عائشه رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم كورودانه وايې چې ما درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه په باره ددې آيت کې (وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ) عائشه رضي الله عنها وايې: آيا دوی هغه خلک دي چې شراب څښي او او غلاګانې کوي؟ نبي عليه السلام وفرمايل: نه ! ای د صديق لورې بلکې دوی هغه خلک دي چې روژې نيسي او لمونځونه کوي او خيراتونه کوي خو بياهم دوی ددينه ويريږي چې ددوی څخه به دا نيک عملونه قبلو نشي (داخلک يو دبل څخه په نيکيو کې مخکښوالی کوي او دوی دغو نيکو عملونو ته مخکې کيدونکي دي.

په يو بل مبارک آيت کې د کاملو مؤمنانو صفت ذکر شوی دی : (الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَى مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ)الحج: (٣٥)

ترجمه:- هغه کسان چې کله الله ياد کړی شي (نو) د دوی زړونه وويريږي او (زيری ورکړه) صبر کوونکو ته په هغو (سختيو) چې دوی ته رسيږي او لمونځ قايموونکو ته او هغو ته چې له هغه مال نه څه انفاق کوي چې مونږ دوی ته ورکړی دی

همدارنګه کامل مؤمن به خپلو اعمالو نه مغروره کيږي او تل به له الله تعالى څخه د هغه د عذاب څخه پنا غواړي.الله تعالى فرمايي:

( وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا. إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا).الفرقان ٦٥

ترجمه:- او هغه کسان دي چې وايي: ای زمونږ ربه! ته زمونږ نه د جهنم عذاب وګرځوه، بېشکه د هغه عذاب همېشه لازمېدونکی دی

٦- د کامل مؤمن بل صفت په قرآن کريم دا ذکر شوی دی چې کامل مؤمن له هر قسم ګناهونو او معاصيو څخه ځان ساتي او که چيرې کومه ګناه ور څخه واقع شي نو له هغې څخه ژر توبه وباسي او پر خپله توبه متعهد پاتي کيږي او دالله تعالى اوامرو ته تابع وي او د نواهيو څخه يې ځان ساتي او دالله د حدودو خيال ساتي او دالله تعالى په عبادت هميشه والی کوي او په نيکيو خلکو ته امر کوي او له بديو څخه خلک منع کوي. الله تعالى فرمايلي دي:(وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْأِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ) الشورى: (٣٧)

ترجمه:- او د هغو کسانو لپاره چې له غټو ګناهونو او د بې حيايی له کارونو نه ځان ساتي او چې کله هم په غضب شي (نو) دوی بخښنه کوي

په يو بل آيت کې د کاملو مؤمنانو صفت داسې ذکر شوی دی:(التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدونَ الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ) التوبة: (١١٢)

ترجمه:- (دوی) توبه کوونکي دي، عبادت کوونکي، ثنا ويونکي، روژه نيونکي، رکوع کوونکي، سجده کوونکي، د نېکی حکم کوونکي او له بدو کارونو څخه منع کوونکي دي او د الله د حدودو حفاظت کوونکي دي او ته مومنانو ته زېری ورکړه

٧- د کامل مؤمن بل صفت په قرآن کريم دا ذکر شوی دی چې کامل مؤمن تواضع کوونکی وي او په ارامی، سکون او عاجزۍ سره دالله تعالى پر ځمکه ګرځي او له تکبر او لويی څخه ځان ساتي. الله تعالى د الفرقان په سورت کې دالله

تعالى د ريښتينو بندګانو صفت داسې بيانوي: (وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا).الفرقان٦٣. ترجمه: او د رحمن بنده ګان هغه دي چې په ځمکه ورو ګرځي او کله چې له دوی سره جاهلان خطاب (خبره) کوي (نو) دوی سالمه (درسته) خبره کوي

په يو بل مبارک آيت کې راځي: وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ. الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَى مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ)الحج: (٣٥)

ترجمه:- هغه کسان چې کله الله ياد کړی شي (نو) د دوی زړونه وويرېږي او (زيری ورکړه) صبر کوونکو ته په هغو (سختيو) چې دوی ته رسېږي او لمونځ قايموونکو ته او هغو ته چې له هغه مال نه څه انفاق کوي چې مونږ دوی ته ورکړی دی

**٨-** په قرآن کريم کې د کامل مؤمن بل صفت دا ذکرشوی دی چې د جاهلانو سره مقابله په جهل سره نه کوي او خپل قهر او غوسه تل په کنترول کې ساتي او کوښښ کوي چې خلکو او بدي کوونکو ته ښښنه او عفوه وکړي او دانتقام اخيستلو په فکر کې نه اوسي. دالفرقان په سورت کې الله تعالى فرمايلي دي:( وَإِذَاخَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا).الفرقان٦٣. ترجمه:- او کله چې له دوی سره جاهلان خطاب (خبره) کوي (نو) دوی سالمه (درسته) خبره کوي

همدارنګه د آل عمران په سورت کې الله تعالى دکاملو مؤمنانو صفت داسې بيان کړی دی:( وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ) آل عمران: (١٣٤) ترجمه: او (متقيان هغه خلک دي) چې را بندوونکي وي قهر لره او عفوه کوونکي وي خلکو ته او الله تعالى خوښ ګڼي نيکو کاران.

**٩-** په قرآن کريم کې د کامل مؤمن بل دا صفت ذکر شوی دی چې کامل مؤمن ددنيا په خوندونو او لذتونو ځان داسې نه مصروفه کوي چې د الله جل جلاله له ذکر او عبادت څخه غافله شي؛ بلکې ددنيا د کارونو تر څنګ زياته توجه د الله تعالى ياد، ذکر او لمانځه او نورو نيکو اعمالو ته کوي او هر وخت د مرګ د ملائکې سره د ملاقات په فکر کې وي او دآخرت له اهوالو او سختو حالاتو ويريږي. الله تعالى د نيکو مؤمنانو صفات داسې بيان کړي دي:( رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ). النور: (٣٧)

ترجمه:- (داسې) سړي چې د الله له ذکر او لمونځ قايمولو او د زکات اداکولو نه يې نه تجارت غافله کوي او نه اخيستل خرڅول، دوی له هغې ورځې نه وېرېږي چې په هغې کې به زړونه او سترګې اوړي راوړي

**١٠-** د کامل مؤمن بل صفت په قرآن کريم کې داسې ذکر شوی دی چې کامل مؤمن پرته د شرعي موجب څخه د معصوم او بې ګناه انسان له وژلو څخه ځان ساتي.. الله تعالى د کاملو او ريښتينو مؤمنانو په اړه فرمايي: (وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ). الفرقان ٦٨.

ترجمه:- دالله تعالى ريښتيني بندګان هغه دي چې نه وژني هغه نفس لره چې حرام کړی دی (وژل د هغې)، مګر په حق سره يعني که چيرې څوک بل څوک ووژني نو په قصاص سره يې وژلی شي.

**١١-** د کامل مؤمن بل صفت دادی چې کله ورته د الله تعالى په آيتونو باندې پند او نصيحت وشي؛ هغه ژر قبولوي او هغې ته تسلميږي او ورته غاړه ږدي او دالله تعالى د آيتونو څخه کوڼ او ړوند نه تيريږي؛ بلکې په تمامه معنا دالله تعالى آيتونو ته غاړه ږدي.الله تعالى د خپلو ريښتينو بندګانو په صفت کې فرمايلي دي: (وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا).الفرقان:٧٣.

ترجمه:- او هغه کسان دي چې کله دوی ته د خپل رب په ایتونو سره نصیحت وکړی شي (نو) په دې (ایتونو) باندې کاڼه او ړانده نه غورځېږي

**۱۲-** د کامل مؤمن بل صفت دادی چې د تکبر، خود پسندی، په ځان مغروره کیدلو او دځان د مدحې څخه ځان ساتي او حرص یې داوي چې خپل نفس له ګناهونو او خطاګانو څخه پاک کړي او خپل نفس اصلاح کړي.په قرآن کریم کې د کاملو مؤمنانو صفت داسې ذکر شوی دی:( الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْأِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنْتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ فَلا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى).النجم: (۳۲)

ترجمه:- هغه کسان چې له غټو ګناهونو او د بې حیایی له کارونو نه ځان ساتي، غیر له وړو وړو ګناهونه، بېشکه ستا رب د بخښنې وسیع کوونکی دی، هغه په تاسو ښه عالم دی، کله چې یې تاسو له ځمکې نه راپیدا کړئ او کله چې تاسو د خپلو میندو په خېټو کې پټ بچي وئ، نو تاسو د خپلو ځانونو تزکیه (پاکوالی) مه کوئ، هغه (الله) ښه عالم دی په هغه چا چې ډېر متقي دی

**۱۳-** د کامل مؤمن په قرآن کریم کې بل دا صفت ذکر شوی دی چې کامل مؤمن په هر حالت کې په سختیو کې او په راحت او سوکالیو کې دالله تعالی په لاره کې انفاق کوي او خپل مال دالله تعالی په لاره کې مصرفوي. الله تعالی د کاملو مؤمنانو په صفت کې فرمایلي دي:(لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ) البقره: (۱۷۷)

ترجمه:- نېکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، او لېکن نېکي (د هغه چا) ده چې پر الله او پر ورځ د اخرت او پر ملایکو او پر کتابونو او پر نبیانو یې ایمان راوړی دی او د هغه په مینه (کې) خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو او مسافرو او سوالګرو ته مال ورکوي او په (ازادولو د) څټونو کې (یې لګوي) او لمونځ قایموي او زکات ورکوي او د خپلو وعدو پوره کوونکي وي کله چې وعده وکړي، (خصوصًا) چې په سختۍ او تکلیف کې او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي دي، دا هغه خلق دي چې رښتیني دي او همدغه خلق متقیان دي

الله تعالی په یو بل مبارک آیت کې د کاملو بندګانو صفت داسې بیان کړی دی : (وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيراً*إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا*إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا).الانسان: (۸-۱۰)

ترجمه:- او دوی د هغه (الله) په مینه کې مسکین او یتیم او بندي ته طعام ورکوي (دوی وایي:) بېشکه همدا خبره ده چې مونږ تاسو ته د الله له مخه طعام درکوو، مونږ له تاسو نه څه بدله او شکر نه غواړوبېشکه مونږ له خپل رب نه د تریو مخې ډېرې سختې ورځې (له عذاب) نه وېرېږو

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ...) آل عمران:(۱۳٤) ترجمه:

**۱۴-** د کامل مؤمن بل دا صفت دی چې د خپلو مؤمنانو ورونو سره به مینه ، محبت او نرمي کوي او دکفارو په مقابل کې به سخت ګیر وي او زیات لمونځونه به کوي او په وجود کې به یې د عبادت آثار ښکاري.(مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْأِنْجِيلِ). الفتح: ۲۹.

ترجمه:- محمد د الله رسول دی او هغه کسان چې له ده سره دي، په کافرانو باندې ډېر سخت دي، په خپل مينځ کې ډېر مهرباني کوونکي دي، ته به دوی وینې چې رکوع کوونکي، سجده کوونکي دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي، د دوی (د دینداری) نښې د دوی په مخونو کې دي د سجدو له اثر نه، دغه په تورات کې د دوی مثال دی او په انجیل کې د دوی مثال دی. په یو بل مبارک آیت کې د کامل مؤمن د صفت په اړه راځي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ). المائدة: ۵۴.

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په تاسو کې چې څوك له خپل دین نه مرتد شو، نو ژر ده چې الله به داسې خلق راولي چې هغه (الله) به له دوی سره مینه کوي او دوی به له هغه (الله) سره مینه کوي، په مومنانو به ډېر نرمي کوونکي وي او په کافرانو باندې به ډېر سخت وي،

**۱۵-** په قرآن کریم کې د کامل مؤمن بل دا صفت ذکر شوی دی چې کامل مؤمن به صبرناک وي او په عباداتو، آفاتو او مصیبتونو پر وخت به صبر کوي او دمعصیت به هم ځان صبروي. الله تعالی د کاملو مؤمنانو په صفت کې فرمایلي دي:(وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ) البقره: (۱۷۷)

ترجمه:- (خصوصًا) چې په سختۍ او تکلیف کې او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي دي، دا هغه خلق دي چې رښتیني دي او همدغه خلق متقیان دي

الله تعالی کاملو مؤمنانو ته په صبر سره امر کړی دی او فرمایي: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ) آل عمران: ۲۰۰.

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو صبر کوئ او په صبر ټینګ اوسئ او په (سرحدي) مورچو کې محکم اوسئ او له الله نه وېرېږئ، لپاره د دې چې تاسو کامیاب شئ

په یو بل مبارک آیت کې د کاملو مؤمنانو صفت ذکر شوی دی:(وَالصَّابِرِينَ عَلَى مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ)الحج: (۳۵)

ترجمه:- او (زېری ورکړه) صبر کوونکو ته په هغو (سختیو) چې دوی ته رسېږي او لمونځ قایموونکو ته او هغو ته چې له هغه مال نه څه انفاق کوي چې مونږ دوی ته ورکړی دی

د البلد په سورت کې الله تعالی د کاملو مؤمنانو صفت داسې صفت کوی: (ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ) البلد: (۱۷) ترجمه: بیا دغه له هغو کسانو څنې وي چې ایمان یې راوړی وي او یو بل ته د صبر وصیت کوي او یو بل ته د مهربانۍ (او شفقت) کولو وصیت کوي

**۱۶-** د کامل مؤمن په قرآن کریم کې بل دا صفت ذکر شوی دی چې کامل مؤمن به تل دالله تعالی په لاره کې په ځان او مال جهاد کوي.

الله جل جلاله د کاملو مؤمنانو په صفت کې فرمایي:( لَكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ مَعَهُ جَاهَدُواْ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ وَأُوْلَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ). التوبة: (۸۸) ترجمه: مګر پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- او هغه کسان چې کامل ایمان

يې راوړې ۋ له هغه سره ،جهاد يې وکړ په خپلو مالونو سره او ځانونو سره او دا کسان چې دي شته دی ددوی لپاره نيکيانې ( په دنيا کې په فتح او نصرت سره او په آخرت کې په جنت سره) او دا خلک همدوی کامياب دي.

په يو بل آيت کې الله تعالی د کاملو مؤمنانو صفت په ترخ کې فرمايي:(إِنَّ اللّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ). التوبة: (١١١)

ترجمه:- بېشکه الله له مومنانو نه د هغوی ځانونه او د هغوی مالونه اخيستي دي په بدل د دې کې چې يقينًا د دوی لپاره جنت دی، دوی د الله په لاره کې جنګ کوي، نو وژل کوي او وژلی شي، دا په تورات او انجيل او قرآن کې

**۱۷- د کامل مؤمن بل صفت په قرآن کريم داسې ذکر شوی دی چې کامل مؤمن هغه دی چې په الله تعالی توکل کوي او پر اسبابو پورې زيات زړه نه تړي. الله تعالی د کاملو مؤمنانو په باره کې وايې چې کامل مؤمنان په الله توکل کوونکي دي او دوی په حقه مؤمنان دي.(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ(٢) الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ(٣) أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ) الأنفال:(٤)**

ترجمه:- بېشکه خبره همدا ده چې مومنان هغه خلق دي، چې کله الله ياد کړی شي، نو د دوی زړونه ووېرېږي او کله چې دوی ته د هغه (الله) ايتونه تلاوت کړی شي (، نو) دغه (ايتونه) دوی ته ايمان ورزيات کړي او خاص په خپل رب باندې دوی توکل کوي هغه کسان چې لمونځ قايموي او له هغه (مال) نه چې مونږ دوی ته ورکړی دی، څه حصه خرچ کوي همدغه خلق په حقه مومنان دي، د دوی لپاره د خپل رب په نېز درجې دي او بخښنه او عزتمن رزق دی

او څوک چې پر الله تعالی حقيقي توکل وکړي ، نو ده لره کافي دی الله تعالی. په يو آيت مبارک کې راځي:(وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ).الطلاق: (٣)

ترجمه:- او هغه څوك چې په الله باندې توکل وکړي، نو همدی د ده لپاره بس (او کافی) دی